Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۲۸مه ګڼه | پرله‌پسې ۴۲مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۸/۱



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د ټاپي پروژې له کاري بهیر څخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال لیدنه

۲- د کاسا زر پروژه کې د پام وړ پرمختګ

# د ټاپي پروژې لـه کاري بهیر څخه د ریاســت الوزراء اقتصادي مرســتیال لیدنه


د ریاســت الوزراء اقتصــادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات په ســفر کې د ټاپي (ترکمنســتان، افغانستان، پاکســتان، هند) ګازو نللیکــې له کاري بهیر څخه له نږدې لیدنه وکړه. د ترکمنســتان ملي رهبــر محتــرم قربانقلي بردي محمــدوف هم لــه ترکمنســتان څخه هــرات ته راغلی و او دواړو لورو د ټاپي ترڅنګ په یوشــمېر نـورو پـروژو هـم خبـرې وکړې. محتـرم ملا عبدالغنـي بـرادر اخوند د ټاپي پـروژه نه یوازې د افغانستان، بلکې د سـیمې د هېوادونو د اقتصاد له پاره مهمــه وبلله او له ترکمن لوري یې غوښتنه وکړه، چــې افغانانو تــه هم د دې پــروژې د چارو پرمخ بیولو کــې کاري فرصتونه برابر کړي. ترکمن لوري په دې برخــه کې له خپله اړخه د همکارۍ



ډاډ څرګنــد کــړ. د ټاپي پــروژې پــه واســطه د ترکمنستان ګاز د افغانســتان له لارې پاکستان او بیا هند ته لېږدول کېـږي، چې عملي چارې یې په ترکمنســتان کــې پــای تــه رســېدلې وې او د افغانســتان اسلامي امارت له راتګ وروسته یې په افغانسـتان کې چارې پیل شوې او اوس یې چارې په چټکــۍ روانې دي. تر اوســه د افغانســتان په خاوره کــې ۱۴ کیلومتــره نللیکه ځغـول شــوې او شــاوخوا اویا کیلومتره نــوره ځمکــه د نللیکې غځولو له پــاره چمتو شــوې ده. اسلامي امارت د اقتصــاد محــوره پالیســۍ پــر بنســټ لــه ټولو هېوادونو ســره مثبتې اړیکې غواړي او د سیمې د نښـلون قوي ملاتــړی دی، ځکه یې د ســیمې د اقتصادي نښـلون مهمو پروژو ته ډېره توجه کړې او غواړي چې دغه پروژې عمـلي شي. ټاپي پروژه چې د افغانســتان له پاره مهمه پروژه ده، اسلامي امارت یې د پلي کېدو بشــپړ ملاتړ کوي او هوډ لري چې دغه پروژه عملي او د اســتفادې وړ وګرځي. د دې پــروژې په پــلي کېدو ســره به په هېــواد کې اقتصادي خوځښــت زیات شي، صنعتي ښارګوټو تــه بــه ګازي برېښــنا ورکــړل شي او د زرګونــو هېوادوالــو کورونه بــه روښــانه شي. دا پروژه به ســلګونه هېوادوالــو تــه د کاري فرصتونــو او میلیونونه ډالرو عوایدو ترلاســه کولو لامل شي.

# د کاســا زر پروژه کــې د پــام وړ پرمختګ

د افغانستان برېښنا شرکت مسوولینو ویلي، په هېواد کې د کاســا زر پروژه کې د پام وړ پرمختګ شوی دی. د مسوولینو په وینا، دا پروژه د هېواد د انرژۍ ظرفیت لوړولو کې اساسي رول لوبوي. په هېواد کې د ۱۴۰۰ لمریزکال له تحول سره د ځینو پروژو چارې ځنډېدلې وې، خو د اسلامي امارت پرلپســې هڅو په پایلــه کې د ځنډېدلــو پروژو کارونه بېرته پیل شول چې یوه یې د کاسا زرپروژه وه. تمــه کېږي چې پــه هېواد کې به د کاســا زر پروژې چارې د روان لمریزکال ترپایه بشپړې



شي. د کاسا زر پروژې په واســطه د مرکزي اسیا برېښــنا د افغانســتان له لارې د ســویلي اسیا هېوادونو تــه لېږدول کېږي. افغانســتان له دې پروژې څخه یو څه اندازه برېښنا ترلاسه کوي چې د افغانستان د برېښنا د اړتیا یو څه برخه به پوره کړي. دغه راز، افغانســتان به د برېښنا د ترلاسه کولو ســربېره میلیونونو ډالرعواید هم ترلاســه کــړي. د افغانســتان اسلامي امــارت لــه راتګ وروسته په هېواد کې د ســیمه ییز اتصال پروژو عملي کارونــه چټک شــوي دي. اسلامي امارت غواړي چې افغانســتان په سیمه ییز نښلون کې مهــم رول ولوبــوي او د افغانســتان تاریخي ســوداګریز حیثیت راژوندی کړي. د ســیمه ییز اتصــال د پــروژو د چــارو پېــل او بشــپړېدل د افغانستان د اقتصادي پرمختګ له پاره ډېر مهم دي. د ملي اقتصاد پیاوړتیا او صنعتي ودې له پاره د کاسا زر او ټاپي په څېر پروژې ډېرې مهمې دي، چې په بشپړېدو سره یې افغانستان په سیمه کې د انــرژۍ د ترانزیټ پــه عملي مرکــز بدلېږي او افغانستان ډېره اقتصادي ګټه هم ترلاسه کوي.